# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدين بوم و بر زنده يک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهيم          از آن به که کشور به دشمن دهيم



بســـــــــمل

۲۸.۰۳.۱۰

# يو پېزوان  پرې تړلي دوه ياران



قدرمنو لوستونکو!

نن نه غواړم چې ستاسو ډېر وخت ونيسم صرف د نوبل دجايزې د مستحق ؟؟ ښاغلي اوباماله لنډه کې منډه چې تر ارګه پورې يې کړې وه  محکومه او له ځرګندونوخخه يې خومهمي جملې راباسم تر څو هم ستاسو وخت ونه نيسم  او هم خپل اعتراض  داوسنيو سپين سترګو اوجعل کارو انسانانو په وړاندي وکړم .

دنوبل جايزې  د مستحق؟؟ ښاغلی اوبا ځرګندوني ولولئ :

اوباما وايي :

پوځي هلوځلو پرمختک کړی خو ولسمشرکرزی بايد د فساد مخه ونيسي .

زه وایم :

پوځي هلوځلو دسولي لپاره او که د وحشت لپاره پرمختګ کړی دی ؟

ددې ترڅنګ اداري فساد او د بېګناه ملکي وګړوعام وژنه دسپيني ماڼی په ستراتيژي کي دوه مهمي غوره شوي جبهي نه ګڼئ تر څو افغان ولس جبراً مقاومت اختیار، جګړه اوږده اوبیا تاسي په دې پلمه خپلوموخوته ځان ورسوئ ؟

اوباما وايي :

د امريکا دمتحدوايالتونو او افغانستان ترمنځ مشارکت دوام لري موږ په سيمه کي د سخت دريځوپرضد په مبارزه کي پرمختګ لېدلی دی .

زه وایم :

کله چي زموږ دځمکي اوفضأ واک ستاسو په لاس او په هر ځای کي چي وغواړئ ظالمانه چاپي اچوئ

نوبيادکوم حقوقي معيارله مخي دمشارکت خبري کوئ؟

تاسوخوافغانستان ته د شريک په سترګه نه ګورئ بلکي ديواشغال شوي هيوادپه څېر يي کاروئ،دا د سخت دريځوبېولالي موهم اوس رسوا شوي دي دا درسره څوک نه شي منلای، ټول بشريت پوهيږي چي دا سخت دريځه دڅه لپاره اودچا لخواتموېليږي؟

اوباما وايي :

موږ همدارازغواړو چي په افغانستان کي د ښي حکومتدارۍ ، د قانون د حاکميت، د مخدرو موادو ضد هلوځلو اوپه نورو چارو کي ښه پرمختګ وشي څو افغانستان لا سوکاله ، خوندي، امن او خپلواک شي .

زه وایم :

واه واه عجيبه سپين سترګي، تاسو کوم حکومت يادوئ؟

دقانون حاکميت تاسو څه ته واياست؟

ستاسولوړپوړوقومندانانو ورمه ورځ ووېل چي موږ په مارجه کي دهغوکوکنارومخه نه نيسو له کومو څخه به چي ۴۰ ميليونه ډالره حاصل شي .

تاسو لا اوس هم دافغانستان سوکالي، خونديتوب او خپلواکي پرمخ رامبئ ؟

هم مي ووژني پخپله هم په ما باندې ژړا که ×× څه شه ياردی شه يي مينه؟؟

اوباما وايي :

امریکا به تر هغو پورې له افغانستانه ونه وځي چې د القاعده او نورو ترهګرو خطر نه وي ختم شوی .

زه وايم :
چې بس همداسې له شف شف ځخه تېرشه شفتالو يې کړه ستاسوله دې ځرګندونوځخه ښکاره ده چې په راتلونکي کال کې هسې يوځو بې ښمره سرتيري امريکا ته باسئ خوپه بدل کې به يې ګڼ شمېر انسان دوسته ؟؟ رامبوګان زموږ په مظلوم ولس رانازل کړئ ، همدارازبه ترهغوپورې ترهګر ونازوئ ترځوچې تاسو زموږ دسيمې غړکه په پوره ډول سره نه وي زبېښلې .

اوباما وايي :

په افغانستان کې د هغه خطر د پای ته رسولو لپاره چې د ده په وينا امريکا، افغانستان، پاکستان او درستې نړۍ ته متوجه دی ، افغانستان ته نور سرتېري لېږي .

زه وايم :

دا خطر دچا زېږنده اودا نور سرتيري دځه لپاره؟
افغانستان تاسوته داسې يوپل دی چې هم غواړئ ترکسپين بهيرې پورې پرې تېرشئ اوهم غواړئ چې لا يې پسې ونړوئ که داسې نه وي نو بيا مو ولې جنګي جنايتکاران زموږ په ولس مسلط او په دا نړدې يوه لسيزه کې مو زمو ولس او هيواد ته ځه ورپه برخه کړل؟

اوباما وايي :

چې د افغانستان لپاره د امريکا په ستراتيژی کې ملکي هلې ځلې هم شاملې دي چې پر اساس به يې د افغانانو ژوند ښه شي .

زه وايم :

له خيره دې توبه خوشر مه رسوه ، دا تاسې کومې ملکي هلې ځلې يادوئ؟
دهلمنديورانيمواو په هيواد کې دنوروزېرمو زبېښل؟

اوباماوايي :

د عامو خلکو لپاره د ژوند د شرايطو د ښه کېدو غوښتنه کوم .

زه وايم :

په کليو، بانډو، هديرو،کوزدو، ودونواو جنازو مو بمونه مه ورورئ، ميندي، خويندي اوماشومان مو په سپيو مه راداړئ نور مو د ژوندپه شرايطو پسي مه ګرزئ دخپلی امريکاغم مو وخورئ .

يادونـــــــــــــــــه :

که دا لاندي تصويرونو ته سم ځير شئ نو د دوی جعل او . . . به ښکي ووينئ .

له تاند څخه په مننه

**اوباما لـــه کـــرزي ، افغـــان کـــابيني، خبريـــالانو او امريکـــايي پوځيـــانو سـره وکتــل**

تاند(يکشنبه/مارچ۲۸) د امريکا ولسمشربارک اوباما له ولسمشرکېدو وروسته د افغانستان په لومړني سفر کې نن په ارګ کي له ولسمشرکرزي سره وليدل او ويې ويل چې په دغه هيواد کې پوځي هلوځلو پرمختګ کړی خو ولسمشرکرزی بايد د فساد مخه ونيسي .

اوباما د امريکا د هوايي ځواک په الوتکه کې په بګرام هوايي اډه کې کوز شو او له هغه ځايه د کرزي د ليدلو لپاره په هيلي کوپتر کي ارګ ته لاړ چي هلته يي ولسمشرکرزي هرکلی وکړ.

د امريکا ولسمشر وروسته خپل افغان ساري ته د خبريالانو په مخکي وويل :« غواړم چي دا قوي پيغام ورکړم چي د امريکا د متحدو ايالتونو او افغانستان ترمنځ مشارکت دوام لري.موږ په سيمه کي د سخت دريځو پرضد په مبارزه کي پرمختګ ليدلی دی .»

ده زياته کړه :« موږ همدارازغواړو چي په افغانستان کي د ښې حکومتدارۍ ، د قانون د حاکميت، د مخدرو موادو ضد هلوځلو اوپه نورو چارو کي ښه پرمختګ وشي څو افغانستان لا سوکاله ، خوندي ،امن او خپلواک شي .»




اوباما په ارګ کې له ولسمشرکرزي سره خبرې کوي

ولسمشرکرزي هیله څرګنده کړه چې د یوه سوکال، باثباته، سوله ییز او غښتلي افغانستان لپاره به چې په خپلو پښو ولاړ وي ، د امریکا او افغانستان مشارکت او همکاري دوام وکړي .

ولسمشراوباما د یکشنبې په شپه له واشنګټنه د افغانستان په لور روان شو او د امنیتي اندېښنو له کبله یې نیم ساعت مخکې تر دې چې د افغانستان خاورې ته ورسېږي ،ولسمشرکرزی له خپل سفره خبر کړ.

ښاغلی اوباما له ارګه بېرته بګرام ته لاړ او ماښامنی یې هم له امریکایي پوځیانو سره وخوړله .
ده په بګرام کې امریکایي پوځیانو ته اوږده وینا وکړه او ویې ویل چې امریکا بـه تر هغو پورې لـه افغانستانه ونـه وځي چې د القاعده او نورو ترهګرو خطر نه وي ختم شوی .



اوباما په بګرام کې امریکایی پوځیانو ته وینا کوي

اوباما وویل چې په افغانستان کې د هغه خطر د پای ته رسولو لپاره چې د ده په وینا امریکا، افغانستان، پاکستان او درستې نړۍ ته متوجه دی ، افغانستان ته نور سرتېري لېږي .

اوباما خپلو پوځیانو ته همداراز وویل چي دی پوره ډاډه دی چي دوی به په خپل ماموریت کي بریالي شي .



اوباما له جنرال مک کرستل سره خبري کوي او بیـه کابل کـي د امریکا سفیر ایکین بیري
ورته په حسرت ګوري

اوباما چي له ولسمشرکېدو وروسته یي د لومړي ځل لپاره افغانستان ته سفر کړی ، پوځیانو ته وویل چي د ده لپـاره دا ترټولو مهم سفر دی . ده همداراز وویل چي د افغانستان لپـاره د امریکا پـه ستراتیژۍ کـي ملکـي هلـي ځلـي هم شاملي دي چي پر اساس به یي د افغانانو ژوند ښه شي .

اوباما په افغانستان کي د خپل سفیر ایکین بیري او د نـاټو او امریکـایی ځواکونـو د عمـومي قومندان جنـرال سـتنلي مک کرستل په ځانګړي ډول ستاینه وکړه .



ده امریکایي پوځیانو ته دا هم وویل چې د افغانستان په اته کلني جګړې کې لا سختې ورځې په مخکې لري چې په دې کې به شاتګونه هم وي خو امریکایان هیڅکله تېښته نه شي زغملای .

اوباما که څه هم په خپلو څرګندونو کې د اصلي خطر په توګه بیا بیا القاعده یادوله خو یو – دوه ځایه یې د طالبانو یادونه هم وکړه او ویې ویل چې که هغوی بیا پر افغانستان مسلط شي ، امریکا او نوره نړۍ به خوندي نه وي .

اوباما چې په بګرام کې شاوخوا دوه نیم زره امریکایي پوځیانو ته ږغېده ، د هغوی کورنیو ته د مالي امتیازونو د ورکولو یادونه هم وکړه .

اوباما تر دې مخکې له ولسمشرکرزي او د هغه د کابینې له غړیو سره په کتنه کې وویل چې دی په هغه پرمختګ خوشاله شوی چې د مارچ په پنځلسمه له ولسمشرکرزي سره د ویډیو کنفرانس له لارې ترې خبر شو.

ده په پوځي برخه کې وروستي اقدامات هم وستایل خو د افغانستان په جمهوري ریاست کې یې په خپلو دېرش دقیقو څرګندونو کې په دې بیا بیا ټینګار کاوه چې پکار ده عملاً ملکي شرایط بهتره شي .

اوباما په ځانګړي ډول د عامو خلکو لپاره د ژوند د شرایطو د ښه کېدو غوښتنه وکړه .

د امریکا ولسمشربارک اوباما په داسي حال کي افغانستان ته سفر وکړ چې له دې سره په یووخت اعلان وشو چې په افغانستان کې د روان کال په لومړیو درو میاشتو کې د امریکایي پوځیانو تلفات د تېر کال د ورته مودې په پرتله دوه برابره شوي دي .